# ډیره اسماعیل خان؛ د امنیتي ځواکونو بریالي عملیات څلور تنه ډار اچوونکي وژل شوي

دپټو معلوماتو په اساس امنيتي ځواکونو دډيره اسماعيل خان په کلاچي سيمه کې دپلټنو په عملياتو کې څلور خوارج وژلي دي۔

**ترهګرو په زوره د ځايي خلکو په کورونو کې په یرغمل کولو سره پناه اخيستې وه او له ښځو او ماشومانو څخه يې د انساني ډهال په توګه کار اخيست۔**




**امنيتي ځواکونو د یوه منظم پلان له مخې د یوه بوډا، ښځې او ماشومانو په ګډون څلور تنه په خوندي ډول وژغورل او څلور تنه ترهګر يې په کور کې جهنم ته واستول۔ خو په ډېره زړورتيا سره دوه افسرانو د شهادت لوړ مقام ترلاسه کړ۔**

**وژل شوي تروريستان د امنيتي ځواکونو او عامو خلکو پر وړاندې په ګنو ترهګريزو کړنو کې لاس درلود او بې ګناه خلک يې د سهولتکاريۍ لپاره په زبردسايۍ استعمالول۔**

د ترهګرو د شتون په اړه پر وخت د امنيتي ځواکونو د عملياتو په پايله کې، د خلکو د همکارۍ او د يوې مربوطې استخباراتي شبکې له برکته، خوارج هره ورځ په لوی شمير کې عبرتناک اجام ته رسوي۔